| شمیره | ځپرکي | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | لومړي ځپرکی: ماده او خواص يې | ۲ |
| ۳ | ماده | ۳ |
| ٤ | د مادې ذرې- اتومونه او ماليکولونه | ٥ |
| ٥ | د مادې د ذراتو ترتیب او فزيکي حالت | ٦ |
| ٦ | د مادې حالات او تودوخه | ۱۰ |
| ۷ | د اوبو درې حالتونه | ۱۰ |
| ۸ | د موادو پر حجم د تودوخې اغيزه | ۱۰ |
| ۹ | د مادې خواص | ۱۳ |
| ۱۰ | د لومړي ځپرکي لنډيز او پوښتنې | ۲۰ |
| ۱۱ | دويم ځپرکی: د مادې ډولونه | ۲۲ |
| ۱۲ | مخلوطونه | ۲۳ |
| ۱۳ | د محلولونو په جوړښت کې د کتلې (مقدار) پايښت | ۲۸ |
| ۱٤ | د موادو انحلاليت | ۳۰ |
| ۱٥ | خالصه ماده | ۳۳ |
| ۱٦ | د دويم ځپرکي لنډيز او پوښتنې | ۳٦ |
| ۱۷ | دريم ځپرکی: کيمياوي تعاملونه او معادلې | ۳۸ |
| ۱۸ | کيمياوي معادلې | ۳۹ |
| ۱۹ | کيمياوي تعاملونه او د مرکبونو جوړېدنه | ٤٤ |
| ۲۰ | د کيمياوي معادلو برابرول (توزين) | ٥۰ |
| ۲۱ | د دريم ځپرکي لنډيز او پوښتنې | ٥٤ |
| ۲۲ | څلورم ځپرکی: زمونږ په ژوند کې مهم عنصرونه | ٥۸ |
| ۲۳ | هايدروجن | ٥۹ |
| ۲٤ | اکسيجن | ٦۳ |
| ۲٥ | نايتروجن | ٦٦ |
| ۲٦ | کاربن | ٦۸ |
| ۲۷ | د څلورم ځپرکي لنډيز او پوښتنې | ۷۲ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کلورین له ګاز سره تعامل**: د هایدروجن او کلورین ګازونه په تیاره کې په کراره او په رڼا کې په چټکی تعامل کوی او د چاودنې خطر لري. په دي تعامل کې د هایدروجن کلوراید ګاز جوړیږي:

$$_2(g + \ _2(g \xrightarrow{\text{رڼا}} 2 \quad (g$$

هایدروجن — کلورین — هایدروجن کلوراید

**د نایتروجن له ګاز سره تعامل**: په ټاکلو شرایطو (فشار او تودوخه) کې د هایدروجن او نایتروجن ګازونه سره تعامل کوي، د امونیا ګاز جوړوي.

$$3H_2(g) + N_2(g) \xrightarrow{\text{کتلست، فشار، زیاته تودوخه}} 2NH_3(g)$$

هایدروجن — نایتروجن — امونیا

**د فلزونو له اکسایدونو سره تعامل**: هایدروجن کولای شي چې له فلزونو څخه اکسیجن جلا کړي؛ د بیلګې په توګه: هایدروجن د مسو له اکسایدو سره تعامل کوي او د دې لامل ګرځي چې مس له خپل اکساید څخه جلا کړي.

$$CuO(s) + H_2(g) \longrightarrow Cu(s) + H_2O(g)$$

هایدروجن + مس (II) اکساید — د اوبو براسونه + فلزی مس

## د هایدروجن لاس ته راوړل

د لومړی ځل لپاره په ۱۷۹۹ کال انګلیسي فزیک پوه کوندیش دیوه فلز او تیزاب له تعامل څخه هایدروجن حاصل اوکشف کړ.

کړنې

**۱ - د جستو د فلز او د مالګې تیزابو له تعامل څخه د هایدروجن لاس ته راوړنه.**

**د اړتیا وړ لوازم او مواد**: د جستو فلز، د مالګې تیزاب، اوبه، فلاسک، دوه سوري لرونکي ربړي سرپوښ، زنګون کوږې نل، ربړي پایپ، قیف، د اوبو تشت، ازمیښتي نلونه یا بوتل او اورلګیت.

**کړنلاره**: له (۳-۶ شکل) سره سمه دستګاه وتړئ، د جستو ټوټې په فلاسک کې واچوئ او له پاسه یې د مالګې تیزاب ور زیات کړئ. په سرپوښ کې ربړي نل ننه باسئ اود فلاسک خوله پرې وتړئ. په ازمیښتي نل کې ټول شوی هایدروجن په کراره



(c) ketabton.com: The Digital Library

## کړنه

### د کاربن د درې شکلونو د کلکوالي پرتله کول

**د اړتیا وړ لوازم او مواد:** یوه ټوټه د ډبرو سکاره، یوه ټوټه د لرګیو سکاره، یو ښیښه بر، یوه ټوټه د پنسل تورکې او څلور ټوټې ښیښنه.

**کړنلار:** زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشل شي او هرې ډلې ته دې د موادو نمونې ورکړل شي. هره نمونه دې لمس کړې، د خط اثر وګوري، ښیښنه بر پر ښیښنه راکاږئ، اغېزې دې ولیدل شي. د کړنې پایله دې د هرې ډلې د استازي په واسطه بیان او تبصره دې پرې وشي.

کاربن د تودوخې په شــتون کې له فلزونو او غیر فلزونو ســره تعامل کوي، همدا ډول د فلزونو له اکسایدونو سره هم تعامل کوي او اکسیجن ترې جلا کوي.

**له کلسیم سره تعامل:** د تودوخې په شتون کې کاربن له کلسیم سره تعامل کوي، کلسیم کارباید جوړوي. له کلسیم کارباید څخه په لیم کولو کې کار اخیستل کېږي:

$$( \ +2 \ ( \longrightarrow \ _2($$

کلسیم + کاربن ⟵ کلیسم کارباید

**له اکسیجن سره تعامل:** د اکسیجن په شتون کې کاربن سوځي، انرژي (تودوخه) او کاربن ډای اکساید جوړوي.

$$( \ + \ _2(g \longrightarrow \ _2(g \ +E$$

کاربن + اکسیجن ⟵ کاربن ډای اکساید

**د فلزونو له اکسایدونو سره تعامل:** د اوسپنې د تصفیې په فابریکه کې د ډبرو سکاره کارول کېږي، اوسپنه له اکسیجن څخه جلا او ارجاع کېږي:

$$2 \ _2 \ ( \ + \ ( \longrightarrow \ ( \ + \ _2(g$$

اوسپنې (III) اکساید + کاربن ⟵ اوسپنه + کاربن ډای اکساید

### اضافي معلومات

*دکاربن له مرکباتو څخه یو هم کاربن مونو اکساید (CO) دی چې د سکرو د سوځېدو او تازه کېدو په وخت کې جوړېږي. همدا ډول که په زنګ وهلي منقل او زنګ وهلې بخارۍ کې اور بل کړو نو هم د کاربن مونو اکساید ګاز جوړېږي، کله چې دا ګاز تنفس شي د وینې بهیر ته ننوځي او د مړینې لامل ګرځي.*

*په پخوا زمانو کې د دې زهرجن ګاز د تنفس له کبله په نړۍ کې ډېرو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکاوه. له دې کبله د سکرو د تازه کولو او سوځولو په وخت کې منځ ته راغلي ګازونه باید له خونې څخه وویستل شي.*



(c) ketabton.com: The Digital Library

